محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۸/۲۰

# دوې کیسې یوه پایله

دېرش څلوېښت کاله پخوا د کابل په چهلستون کې ملك عبدالخالق د ګذر وکیل و. هغه مهال د کلیو اداره د ملکانو پر غاړه وه. دوی د ولس او حکومت تر منځ د پله حیثیت درلود. د چهلستون یوه اوسېدونکي، چې اوس په حق رسېدلی دی، د ملك عبدالخالق په باره کې خپله یوه کیسه راته کړې وه، چې له تاسو سره یې شریکوم. ده وویل:

په چهلستون کې دوې نسبتاً لويې ويالې دي، چې په هغو کلونو کې ډکې بهېدلې. دغه ويالي بيا همداسې د ښار په لوري رواني وې او د قلعهٔ غيبي، اقاعلي شمس او باغ ريس ځمکې يې خړوبولې. هغه مهال کورونه لږ او کروندې ډېرې وې؛ نو ځکه د هر کلي د اوبو وار مالوم و. زما غنم تږي وو؛ خو د اوبو وار د اقاعلي شمس د کلي و. د شپې له کوره راووتم، خپلو پټيو ته مې اوبه ورخوشې کړې. يو وخت مې ولېدل چې د اقاعلي شمس د بزګرانو ګزمه راورسېده. څلور تنه لالټينونه په لاسو، يومونه پر اوږو، بد وهلو پايځو سره شيبه په شيبه رانژدې کېدل. ما ځان پټ کړ. دوی ولېدل، چې زما د پټيو ورخ خلاص دی او اوبه پکې رواني دي. په دوی کې يو کس يوم له اوږې راکښته کړ، چې ورخ وتړي. بل يې وويل: مه يې تړه. همداسې يې پرېږده چې ملك راوبولو.

دوی د ملك عبدالخالق د کور په لور روان شول. ما له ځان سره وويل، چې اوس خو راپيښه ده. پرېږده چې ملك راشي. شيبه وروسته ملك مخکې او بزګران ورپسې راورسېدل. ما ته د ملك عادت مالوم و. دی له خولې وران و. زيارې يې ډېرې کولې. ما وې چې اوس ما ته سپکې سپورې ونه وايي؛ نو پخپله د هغه مخې ته ورغلم، چې ومې پېژني.

څنګه چې ملك ولېدم، ګزمې والاو ته يې وويل: اوهو! ولله زما خو هېر و، ده ته خو ما اجازه کړې وه، چې خپل دغه دوه پټي اوبه کړي. غنم يې له تندې رژېدل. ما وې دومره خوارې يې کښلې ده، چې عبث نه شي. خير دی اوس به ورخ وتړي.

د ګزمې يو کس وويل: پروا نه کيي ملك صايب. تا چې اجازه کړې وي؛ نو موږ پکې هېڅ نه وايو.

دوی ولاړل. ملك زما غلا پټه کړه؛ خو ما بيا هېڅ کله د اوبو غلا ونه کړه.

***

ملك عبدالخالق کوم پوهنتون نه و لوستی، نه يې د منجمنټ کورسونه ويلي وو؛ خو د اداري په چل ډېر ښه پوهېده. د هغه په اړه دې ته ورته نورې کيسې هم شته. داسې بريښي، چې اکثرو پخوانو ملکانو د اروپېژندنې فطري استعداد لاره. دوی پوهېدل، چې له چا سره څنګه چلند وکړي. دغه سړی، چې کيسه يې تېره شوه، له درنې کورنۍ و، د لوړ عزت نفس څښتن و او ملك په دې باندې پوهېده. که د ده پر ځای بل څوك وای؛ نو شايد ملك به ورته زيارې کړې وې.

***

اوس نو زما کيسه واورئ. ما په حربي ښوونځي کې درس وايه. ۱۳۶۵ تر ۱۳۶۸ لمريز کلونه وو. هلته پر موږ باندې کلك عسکري انظباط تطبيقېده. سهار تر لمرخاته د مخه مجبور وو، چې له خوبه راپاڅېږو، د ښوونځي پر جاده په تاکلو ځايونو کې منظم ودرېږو او د سپورټ ميدانونو ته ولاړ شو. موږ کله کله ناغېړې کوله. خوب مو نه سر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپلې ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

کېده؛ خصوصاً د ژمي په یخه هوا کې، چي تر دوو کمپلو لاندي مو هم بدن رېږدېده، غاښونه مو کړس کړس سره لګېدل او د ساړه باد اواز لکه د لېوانو انګولا وېرولو، دا راته ډېره سخته وه، چي سپورټ ته ولاړ شو. مجبوري وه. قومندانانو ویل چي په عسکری کي منطق نشته. امر دی باید اجرا شي. یو نیم قومندان به یو څه نرم زړی و. ډېر به يي نه ځورولو. یا به پخپله هم د سپورټ پر وخت خوبونه کول. داسي قومندانان مو ((سید ببخار اغا))، ((پدر)) یا ((قلندري)) بلل. د دوی په نوکریوالی کي به خوشاله وو. خو ځیني نور بیا ډېر ظالمان وو. یوه قومندان مو داسي سخت وهل کول، چي د یوه هلك پښتورګی یي په لغتو عیبي کړ، له متیازو سره یي ویني راتلي. دغه قومندان د چوکیو په وسپنیزو میلو، په دړو او کمربندو باندي وهلو. هغه زموږ د ټولي قومندان و. موږ ((قصاب)) باله. په حربي ښوونځي کي هر قومندان همداسي یو مستعار نوم لاره. پر هغه باندي د مخکي دورو شاګردانو دغه نوم ایښی و، شاید علت به يي د هغه بې رحمي و. زموږ د دوري شاګردان هم ډېر بې ډسپلینه وو، زما خپل ځیني ټولګیوال داسي کسان وو، چي میندو پلرونو يي ځانونه د هغوی له شره خلاص کړي وو او حربي ښوونځي ته يي رالیږلي وو. ((هغه پدر ازار و مادر ازار و چارتنګه قرضدار)) چي ورته وایي. دوی نه په وهلو وو، نه په سپکولو، نه په پسته ژبه پوهېدل او نه په ځیره. زموږ قومندانان ډېر بدل رابدل شول؛ خو د دي کندك اداره د هېچا په وس کي نه وه. ان د ((قصاب)) په نوکریوالی کي هم ځیني هلکان سپورټ ته نه راوتل. څوك چي به سپورټ ته لړ ناوخته شو؛ نو قصاب به داسي جزا ورکوله، چي لاسونه به يي د لښتي په منځ په یخو اوبو کي ایښي وو او پښي به يي پورته پر سمیټي چوکیو باندي وي. داسي چي پښي به يي تر سر لوړي وي او ان کولمي به يي خولي ته راتلي. تر دي جزا وروسته موږ تر ډېر ځنډه په دي نه پوهېدو، چي لاسونه مو هم شته که نه؟ بیا چي کرار کرار حسیت پکي پیدا کېده، داسي سوی به يي کاوه، چي ته وا په رګونو کي مو سري ویلي شوي وسپني منډي رااخیستي دي.

موږ ته یو نوی بلوك مشر راغی. اسلم خان نومېده. په جرمني کي يي زده کړي کړي وي. د ده چلند محترمانه و. په حربي ښوونځي کي شاګرد ته احترام؟ دا نو بیخي نادره خبره وه. اکثر قومندانان شاګردانو ته د انسان په سترګه نه کتل. په داسي غیر انساني چاپیریال کي، چي وچ او لانده به پکي سره یو ځای سوځېدل او د یوه کس د ګناه سزا ټولو ګالله، دا یوه نوي خبره وه، چي څوك دي درته درناوی وکړي.

څو شپي چي تېري شوي، د اسلم خان په نوکریوالی کي هغه ډېر بدمعاش شاګردان هم، چي ځانونه به يي سرشار بلل، سهار وختي پاڅېدل او د سپورټ میدان خوا تلل.

ما یوه ورځ ځني وپوښتل، چي ده څنګه زموږ ټولي اداره کړ.

هغه وویل: د جرمني په پوځ کي دا خبره مشهوره ده، چي مادون (تر لاس لاندي کسان) باید له خپل امره ونه وېرېږي؛ ځکه چي انسان له انسانه نه دارېږي. انسان له داړونکو ځناورو ډارېږي. مادون باید له امره حیا وکړي. په دي توګه که امر غایب هم وي، مادونان يي غلط کارونه نه کوي.

اسلم خان دا خبره هم کوله، چي ټول انسانان په یوه میتود نه اداره کېږي. لکه څنګه چي ونه ډېري څانګي او ډېر ښاخونه لري، اداره هم بېلي بېلي لاري چاري لري. هر سړی د هغه له خواصو سره سم اداره کېدای شي.

***

**پایله:**

دغه دوې کیسي د دوو بېلو کسانو وي. یو ملك عبدالخالق عادي کلیوال او بل په نظامي چارو کي د لوړو اروپایي زده کړو برخمن، اسلم خان دی؛ خو د اداري په برخه کي د دواړو چال چلند ما ته یو شان ښکاري.
اوس چي حکومت د قومي مشرانو او ملکانو پر وړتیاوو سترګي پټوي او د سیمو د اداري لپاره بدیل هم نه لري، ګومان کوم، چي پر دي مسالي غور پکار دی.

۱۳۸۸.۰۶.۲۱


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ